شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**د اخيري زمانې د خلکو حالت**

**ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي:** "پر خلکو به خامخا داسي زمانه راسي، چي د يو کس ټول فکر/غم به د خپلي خېټي په مړولو کي وي او خپل دين به ئې د نفسي خواهيشاتو تابع گرځولی وي". [الزهد لابن المبارك- (۲۱۷)]

**حالت مردم آخر زمان**

**ابن عباس رضی الله عنهما می فرماید:** "یقیناً زمانه ای بر سر مردم خواهد آمد که تمام فکر/غم یک شخص سیر کردن شکم اش شده و دین خود را تابع خواهشات نفسی خود قرار خواهد داد. " [الزهد لابن المبارك- (۲۱۷)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

شنبه | د رجب المرجب ۱۱-۱٤٤٦ل س/ د مرغومي ۲۲-۱٤۰۳ل ل/ د جنوري ۱۱-۲۰۲۵ز/څلورم کال / ۱۲۸ گڼه/ ٤ مخیزه



## سرمقاله

### تاثیر تورم بر کسب وکارهای کوچک و متوسط

تورم یعنی افزایش قیمت ها در یک کشور و در نتیجه کاهش قدرت خرید مردم. زمانی که تورم یک کشور کاهش یابد قدرت خرید افزایش می یابد و بالعکس. این مسئله می‌تواند تأثیرات وسیعی بر اقتصاد داشته باشد. در تورم با افزایش قیمت‌ها، قدرت خرید مردم کاهش می‌یابد، زیرا پول ارزش خویش را از دست میدهد و برخی از افراد ممکن است به دلیل انتظار افزایش قیمت‌ها، خریدهای خود را به جلو متمرکز کرده و مصرف را افزایش دهند. تورم می‌تواند تأثیر منفی بر سرمایه‌گذاری داشته باشد، زیرا افراد و شرکت‌ها ممکن است از سرمایه‌گذاری خودداری کنند، چرا که ارزش پول و سرمایه‌گذاری‌هایشان کاهش می‌یابد. این پدیده همچنان باعث ناتوانی مردم در برنامه‌ریزی مالی گردیده، زیرا پیش‌بینی قیمت‌ها و ارزش پول مشکل‌تر می‌شود. تورم می‌تواند تأثیرات گسترده‌ای بر کسب وکارهای کوچک و متوسط در کشورها داشته باشد. کاهش ارزش پول ملی، مشکلات شدید اقتصادی، کاهش قدرت خرید و افزایش قیمت کالاها پیامد اصلی تورم است. تغییر نرخ تورم می‌تواند بر تمام بخش‌های مالی و اقتصادی تأثیر بگذارد. در یک تعریف کلی می‌توان تورم را به عنوان فکتور قابل ملاحظه بر کسب و کار پنداشته که افزایش قیمت کالا و خدمات در دوره‌ای معین را در قبال دارد. این افزایش قیمت معمولاً بدون برنامه‌ریزی رخ می‌دهد. در نتیجه، تعادلی بین نقدینگی و میزان تقاضا وجود نداشته و قدرت خرید کاهش می‌یابد. برخی از تأثیرات احتمالی تورم بر این کسب و کارها را میتوان کاهش قدرت خرید مشتریان نامید که ممکن است باعث کاهش فروش و درآمد کسب و کارها شود. همچنان با افزایش قیمت مواد اولیه و خدمات، هزینه‌های تولید برای کسب و کارها افزایش می‌یابد، که ممکن است سودآوری آنها را کاهش داده و باعث فشار بر موجودی‌های کسب و کارها و نیاز به نقدینگی بیشتر شود، که برنامه‌ریزی مالی را دچار مشکل می کند. تورم می‌تواند باعث سختی در تعیین قیمت محصولات و خدمات شود، زیرا نرخ تورم ممکن است پرداخت هزینه‌های تولید و عملیات را متأثر کند. کسب وکارهای کوچک و متوسط ممکن است ناتوانی در رقابت با کسب وکارهای بزرگتر را که می‌توانند بهتر از آنها با تورم مقابله کنند، تجربه کنند که می توان آن را یکی از تاثیرات عمده تورم بر کسب و کار های کوچک و متوسط پنداشت. برای مقابله با تورم و کاهش تأثیرات آن بر کسب و کارهای کوچک و متوسط، اقداماتی از جمله بهینه‌سازی هزینه‌ها، افزایش کارایی عملیات، تنوع در منابع تأمین، استفاده از سیاست‌های قیمت‌گذاری مناسب، و تسهیل دسترسی به منابع مالی می‌تواند مؤثر باشد. روی همین ملحوظ امارت اسلامی افغانستان همواره تلاش ورزیده است تا اقدامات مختلفی از جمله کنترل نرخ‌ها، سیاست‌های پولی و مالی، و اصلاحات ساختاری اقتصادی را برای کنترل و مدیریت تورم که در کنترول تورم نهایت مؤثر پنداشته میشود را انجام دهد.

**با احترام**

**اداره**

# د ماليې وزير د گمرکونو او عوايدو معينيت له چارو څخه ليدنه وکړه



د ماليې وزير ملا محمد ناصر اخوند د گمرکونو او عوايدو معينيت له چارو څخه ليدنه وکړه او هلته ئې د ياد معينيت له معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد او رئيسانو سره وليدل. په دې ليدنه کي د ماليې وزير گډونوالو ته په خپلو چارو کي د لا ښه والي او د مراجعينو ستونزو ته د رسېدو په برخو کي لازمي سپارښتني وکړې. د گمرکونو او عوايدو معين هم د ځينو سته ستونزو يادونه وکړه، چي د ماليې وزير له لوري د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو. د يادوني وړ ده، چي د گمرکونو او عوايدو معينيت له ماليې وزارت څخه ليري د کابل- جلال اباد په لويه لار کي موقعيت لري؛ نو اړتيا ته په کتو سره ئې د ماليې وزير له چارو څخه ليدنه کوي.

# د بوديجوي واحدونو مالي مسئولينو ته روزنيز پروگرام جوړ سو




د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بوديجوي واحدونو مالي مسؤلينو ته په مالي او حسابي برخو کي روزنيز پروگرام جوړ کړ. په هغه ناسته کي، چي په همدې مناسبت په افغان نړيوال اسلامي پوهنتون کي جوړه سوې وه، د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د لوړو زده کړو وزير شيخ مولوي ندا محمد نديم، د چارو ادارې لوی رئيس شيخ الحديث نورالحق انور، د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود او يو شمېر نورو مسئولينو گډون کړی وو. د ماليې وزير په خپلو خبرو کي دغه پروگرام خورا گټور او ارزښتناك وباله، چي له هغه څخه په گټي اخيستني به کارونه په دقت ترسره سي، هغه زياته کړه، چي له دې پروگرام څخه په گټې اخيستني سره بايد د خپلو مسلکي مهارتونو د پراختيا له پاره هڅي وسي؛ ترڅو کارونه په ښه توگه ترسره سي. د لوړو زده کړو وزير په خپلو خبرو کي وويل، چي دغه روزنيز پروگرام چي نن ئې د پرانيستي شاهدان ياست، ځکه مهم دئ، چي د مالي چارو د انسجام او پرمخ وړلو له پاره چمتو سوی دئ، هغه زياته کړه، چي په اسلام کي جهل او نه پوهاوی عذر نه گڼل کېږي او علم تر عمل مخکي فرض دئ. د دې له پاره، چي تاسي خپل کارونه په اصولي او سمه بڼه ترسره کړئ، اول بايد د هغه په اړه په بشپړ ډول پوهاوی ترلاسه، بيا وروسته د عمل جامه ور واغوندئ. د چارو ادارې لوی رئيس په خپلو خبرو کي وويل، چي د يوې ادارې د رهبرۍ دنده او ديني وجيبه دا ده، چي له اړينو معيارونو سره سم د کسانو گومارنه ترسره او د هغوی وړتيا لوړولو ته زمينه برابره کړي. ماليې وزارت د دې پروگرام په جوړولو سره خپل مسؤليت ترسره کړ، اوس نو تاسي بايد له دې فرصت څخه اعظمي گټه پورته او پېچلي مالي او حسابي مسايل په خورا دقت سره زده کړئ. نوموړي له گډونوالو وغوښتل، چي په دې پروگرام کي پر شته موضوعاتو بسنه ونه کړي، هڅه دې وسي، چي په مطالعې سره خپله پوهه لا زياته کړي. د خزاينو لوی رئيس وويل، د دغه پروگرام له جوړولو څخه موخه په مالي او حسابي برخه کي د بوديجوي واحدونو د مالي مسئولينو د ظرفيت لوړول دي؛ تر څو هغوی د مالي چارو له پروسيجرونو سره لا ډېر بلد سي.

دوام ۲ مخ...



د ډنډ پټان په گمرک کي د (۳۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د هنگرونو د جوړېدو چاري رواني دي

م ۲



د گمرکونو لوی رياست په اداري ناسته کي پر يو شمېر مهمو موضوعاتو بحث او خبري وسوې

م ۲




تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيول سوي دي

م ۲




د هرات محصولي گمرک د جومات او د دخولي او خروجي دروازو د بيارغوني چاري بشپړي سوې

م ۲




**Implementing Digital Payment Systems in Afghanistan**

م ۳



اُزبکستان پر افغانستان ټرانزيټي فيس راټيټ کړ؛ او ايراني باروړونکي موټرونه ئې له ټرانزيټي فيس څخه معاف کړل

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه



# د ډنډ پټان په گمرک کې د (۳۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د هنگرونو د جوړېدو چاري رواني دي



د ماليې وزارت د گمركونو لوی رياست د پکتيا ولايت د ډنډ پټان په گمرك كي د شاوخوا (۳۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو بابو هنگرونو د جوړېدو چاري پيل کړي دي، چي تر دې مهاله د يادي پروژې چاري (۹۰) سلنه پر مخ تللي دي او پاتي چاري به ئې هم ډېري ژر بشپړي سي.

د يادو هنگرونو د جوړولو لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه د يوه افغاني شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي، چي په جوړېدو سره به ئې د سوداگريزو توکو د خونديتوب په برخه کي سوداگرو ته زياتي اسانتياوي برابري سي.

همداراز په ياد گمرك كي د موټرونو د تمځای او احاطې دېوال د جوړېدو چاري هم په چټکۍ سره رواني دي.

د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت له لوري د هيواد په ټولو گمرکونو کي يو شمېر پراختيايي پروژې پلي سوي دي او ځينې ئې د پلي کېدو په حال کي دي.

## د گمرکونو لوی رياست په اداري ناسته کي پر يو شمېر مهمو موضوعاتو بحث او خبري وسوې



د ماليې وزارت د گمركونو لوی رياست د روان مالي کال (۱۷مه) اداري ناسته د گمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د ياد رياست په مقام کي جوړه سوه.

په دې ناسته کي د گمرکونو لوی رياست تخنيکي او حمايوي مرستيال، رئيسانو او يو شمېر آمرينو گډون کړی وو.

له اجنډاء سره سم په دې ناسته کي د صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي توکو په طی مراحلو کي پر سته ستونزو او حل لارو، د گمرکونو لوی رياست د ورځنيو چارو پر لا ښه والي، په گمرکونو کي د يو شمېر سوداگريزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو او يو شمېر نورو موضوعاتو خبري او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې.

د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت تل هڅه کوي، چي د هيواد په گمرکونو کي کورنيو او بهرنيو سوداگرو ته د پام وړ اسانتياوي برابري کړي؛ تر څو د ملي سوداگرۍ لا پراختيا ته ښه زمينه برابره سي.

## تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، کندهار، فراه، ننگرهار او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په نيول سويو توکو کي (۱۴۹۲۷) کيلو گرامه گوړه، (۶۹۷۹) کيلو گرامه چاکلېټ، (۵۴۵۰) کيلو گرامه مالگه، (۲۰۷۹) کيلو گرامه درمل، (۱۲۰۰) کيلو گرامه کينو، (۱۴۸۸) کيلو گرامه خام نخود، (۳۰٦) کيلو گرامه د خياطۍ د ماشين تېل او (۲٦۵) کيلو گرامه پاکټي شيدې شاملي دي.

نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

همدا شان د هرات گمرك كاركوونكو په دوو جلا محمولو کي (۱٦۱،۵) کيلو گرامه زعفران، چي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول او د ابو نصر فراهي گمرك كاركوونكو (۸) پايې لويي او (۸) پايې وړې مخابرې نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې له ايران هيواد څخه افغانستان ته راوړي.

## د هرات محصولي گمرک د جومات او د دخولي او خروجي دروازو د بيارغوني چاري بشپړي سوې



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د شاوخوا (۷۰۰) زره افغانيو په ارزښت د هرات محصولي گمرك د جومات او د دخولي او خروجي دروازو د بيارغوني چاري بشپړي او گټې اخيستني ته وسپارلې.

د يادي پروژې چاري په څلورو مياشتو کي بشپړي سوې، چي لگښت ئې د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکړل سوی او په پلي کېدو سره ئې د گمرك كاركوونكو او مراجعينو ته گڼي اسانتياوي برابري سوي دي.

د يادوني وړ ده، چي د گمرکونو لوی رياست اوسمهال د هيواد په بېلابېلو گمرکونو کي گڼي پراختيايي پروژې پيل کړي، چي د ځينو پروژو چاري پای ته رسېدلي او د ځينو پروژو چاري لا رواني دي.

## برنامهٔ آموزشی تحت عنوان "مسلکی سازی" برای کارمندان گمرکات مرکز و ولایات به پایان رسید

طبق پلان تدریسی سالانه اکادمی ملی عواید و گمرکات وزارت مالیه، به تعداد (۲٦) تن از کارمندان بخش ترانزیت گمرکات ولایتی در برنامه آموزشی تحت عنوان (مسلکی سازی) تصدیق نامه اهداء گردید.

در جلسه که به همین ارتباط دایر گردیده بود، مولوی محمد حامد احمد رئیس عمومی گمرکات وزارت مالیه، محمد نادر همایون آمر آموزش و ارتقای ریاست امور کارکنان، مولوی وصیف احمد احمدی امام ریاست دعوت و ارشاد و بلال احمد احدی آمر اکادمی عواید و گمرکات اشتراک داشتند.

رئیس عمومی گمرکات گفت، تمام مسئولین باید خدمات را در زمان معیین ارائه کنند، عواید ملی را با دقت و شفافیت کامل جمع آوری کرده و تسهیلات لازم را در بخش های مربوطه برای مردم و تجار ملی فراهم نمایند.

سخنرانان در این جلسه نیز چنین برنامه های آموزشی را برای ارتقای ظرفیت کارمندان مفید دانسته و از کارمندان خواستند که از این فرصت ها برای انجام وظایف محوله به شکل مسلکی استفاده نموده و مصدر خدمت واقعی برای مردم شوند.

در پایان این جلسه به اشتراک کنندگان تصدیق نامه اهداء گردید.

قابل ذکر است که در این برنامه (۲٦) روزه در رابطه به قوانین گمرکی، طرزالعمل های ترانزیت داخلی و خارجی، طرزالعمل های ترانسپورت بین المللی، معرفی سازمان های (WCO) و (WTO)، کنترل و تشریح اموال گمرکی، برنامه حفاظت جهانی (PGS) و سیستم اسیکودا به اشتراک کنندگان معلومات لازم ارائه گردید.

## د هلمند او فراه مستوفيتونو ۹۳ تنو او د خوست گمرک ۴۰ تنو کارکوونکو له پاره روزنيز پروگرامونه پيل سول




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له ساحوي تدريسي پلان سره سم، د ساحوي روزنيزو پروگرامونو په لړ کي د هلمند او فراه مستوفيتونو (۹۳) تنو كاركوونكو له پاره د مالياتي قوانينو، طرزالعملونو، مالياتي محاسبې او مالياتي سيستمونو تر سرليك لاندي (۱۵) ورځنی روزنيز پروگرام پيل سو.

همدارنگه د خوست گمرك (۴۰) تنو كاركوونكو ته به د وړتيا لوړوني په موخه په عملي او نظري ډول د گمرکونو قانون، گمرکي کړنلارو، گمرکي بيې ټاکني، تعرفې، گمرکي اظهارليکونو د ډکولو او د اسيکوډا سيستم په اړه روزنه ورکړل سي.

د دغو روزنيزو پروگرامونو موخه په يادو برخو کي د کارکوونکو ظرفيت لوړونه او د اداري چارو لا ښه پرمختگ دئ، چي د (۱۵) ورځو په موده کي به گډونوالو ته د مجربو ټرينرانو له لوري د نظري زده کړو تر څنگ عملي زده کړي هم ورکړل سي.

**... د بوديجوي واحدونو مالي**

نومو‌ړي له گډونوالو وغوښتل، چي د روڼتيا، اغېزمنتوب تضمين او گټورتوب د تأمين، د غيرضروري لگښتونو د مخنيوي او د بوديجوي کسر د له منځه وړلو په موخه دي په دې پروگرام کي په پوره لېوالتيا گډون وکړي.

د يادوني وړ ده، چي دغه پروگرام به (۱۵) ورځي دوام وکړي، چي په هغه کي به گډونوالو ته د مالي چارو او عامه لگښتونو اصول، د ملي بوديجې د اجراء اصول، د کرايې او سفريې اصول، د تدارکاتو قانون او کړنلاره، د خزاينو لوی رياست د معاشاتو د مديريت سيستم (TPMS)، د حسابونو جدول، د ارزښتمنو اسنادو د اجراء څرنگوالی، فورمه جاتو، نقدي او جنسي کنټرول، د معاشاتي او مصارفاتي حوالو ترتيب، چك ليستونه او تأديات، د ادارو بانکي حسابونو ته د لگښتونو او د مخکي ورکړل سويو حوالو د لېږد څرنگوالی، د تحويلۍ د حوالو، د معاشاتو د بانکي کولو سيستم، د عوايدو د جريان د لگښتونو د پلي کولو راپور، د قطعيې د ترتيب او طی مراحلو څرنگوالی او يو شمېر نور اړين موضوعات تشريح سي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# Implementing Digital Payment Systems in Afghanistan

By: Sayeed Razmenda

**Keywords**

- Digital Payment Systems
- Afghanistan Challenges
- Financial Inclusion
- Infrastructure Development
- Cybersecurity
- Mobile Money Services

**Abstract**

Digital payment systems are the key that can transform Afghanistan's government services to be more efficient, transparent, and inclusive. This paper outlines specific challenges and opportunities regarding the adoption of digital payment systems in Afghanistan. While the efforts are on, low digital literacy, poor infrastructure, and cultural reliance on cash transactions remain some of the key impediments to progress. The strategy for infrastructure development, education campaigns, and strong public-private partnerships are necessary to address these challenges in a way to realize this dream. Predictive modeling estimates that effective digital payment implementation can decrease administrative costs by 20-30% annually, saving billions of Afghanis in operational expenses.

**1. Introduction**

Digital payment systems have become an integral part of good governance in most countries around the world. They allow for real-time payments, less administration, and wider access. Due to general illiteracy, weakness in infrastructure, and cultural hurdles, Afghanistan still lags way behind this revolution. The currently prevailing cash-based transactions are characterized by inefficiencies, long queues, and opportunities for corruption.

The Ministry of Finance and Central Bank have (DAB), on their part, been trying to digitize operations, including SMS-based electricity bill payments. All these steps still remain very minimal in scope and outreach. There is a host of other challenges relating to the high cost of access to the internet, low density of banking, and general suspicion of the digital system of operation. But despite thousands now using credit cards and other digital means of paying, it remains largely an urban and logistical nightmare due to such issues as very limited interoperability among the banks. Predictive data indicates that making 50% of transactions on digital platforms can increase GDP growth by 1 to 2% every year and reduce cash-related theft and fraud by about 40%.


**2. Benefits of Digital Payment Systems in Afghanistan**

2.1 Efficiency Enhancement

Digital payments reduce the time and costs required in cash-based transactions. Interoperability of the ATM's brought in by the central bank is such convenience in banking. Still, to ease ineptitude in government offices it requires larger adaption.

2.2 Transparency

Digital systems keep traceable records of the transactions, reducing cases of corruption. In a country like Afghanistan, where digital system issues are numerous, and this causes problems for the people. The openness in pay systems could institute public trust in government accountability.




2.3 Facilitating Financial Inclusion

This means that with only 15% of the population doing formal banking, digital payments can be a route to financial inclusion. Mobile money services, along with education campaigns, will help rural and under-served communities to take part in the economy. Increasing these services to 50% of the populace could result in the formalization of as high as 25% of the currently informal economy.

2.4 Reducing Congestion in Government Offices

Cash-based systems force citizens to join long queues for the simplest of transactions. Digital systems can ease congestion in services related to tax payment and utility billing, among other areas, to improve the public's feeling of satisfaction.

to be continued...

# اعلانات داوطلبی

**د داوطلبی خبرتیا**

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د تخار مستوفیت د اداري ودانۍ له پاره د سولر سیستم وسایلو او نصب د تدارك په پروژه) کي چي تشخيصيه نمبر ئي (۱۰۷۰-W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بنه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئي په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموری له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تداركاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
ځای: د ماليې وزارت د تداركاتو رياست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی رياست اړوند د ملي تداركاتو اداري رسمي ويب سايټ.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د ( سلواغې/ ۱۴۰۳/۰۸) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانی.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
په څنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوکاکین نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شاروالی کابل، دوکان ۱۵۸ ظاهر شاهی و یک کباب غرفه نمبر ۲۱ واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله مربوط ناحیه اول را به شکل آفر سربسته طور جداگانه برای مدت (۱) سال به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. دوکان نمبر A٤۹-۵۰ به مساحت ۳٦مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی.
۲. دوکان نمبر A۵۳-۵٤-۵۵ به مساحت ۵٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۰۰۰) افغانی.
۳. دوکان نمبر A۹۲ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
٤. دوکان نمبر A۸۹-۹۰-۹۱ به مساحت ۵٤ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۰۰۰) افغانی.
۵.یک باب دوکان نمبر A۹۸ به مساحت ٤۸ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی.
٦. پنج باب غرفه A۹۹-۱۰٤ به مساحت ۸٤ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱٤۰۰۰) افغانی.
۷. یک باب دوکان نمبر A-۱۱۳ به مساحت ۱۱,۱مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۸. یک باب دوکان نمبر A٤۳ به سماحت ۱۸مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
۹. یک باب دوکان نمبر ۱۵۸ به مساحت ۸,۳۷ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳٤۳۰۰ ) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ ۳٤,۵۱۷۱
۱۰. یک باب غرفه نمبر ۲۱ به مساحت ۸,۹۳ واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ناحیه اول به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۷۱۰۰) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۱۳ / جدی/ ۱۴۰۳ الی ۱۹/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.
شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یک باب تانک تیل با ملحقات آن به مساحت مجموعی ۱٦۸٦ مترمربع واقع سه راهی علاوالدین مربوط ناحیه ٦ شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۷٤۳۵۳٦) افغانی به شکل آفر سربسته برای مدت (۳) سال به اعلان داوطلبی می سپارد.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۵۹۰۸٤ ۳٤,٤۸۷۸۲۳
اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۱۳ / جدی/ ۱۴۰۳ الی ۲٦/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نمایند و همچنان شرطنامه را در بدل (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.
آدرس: تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.
شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).
تاریخ مجلس داوطلبی: ۲۷/ جدی / ۱۴۰۳ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر.

**د داوطلبی خبرتیا**

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د ماليې وزارت د جنراټورونو له پاره د يو نوي تېلو پمپ د جوړوني په پروژه) کي چي تشخيصيه نمبر ئي (Rebid-۸۵٦-W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئي په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموری له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تداركاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي
ځای: د ماليې وزارت د تداركاتو رياست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی رياست اړوند د ملي تداركاتو اداري رسمي ويب سايټ.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاكلې نېټه: د ( مرغومی/۲۴/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د ( سلواغه/ ۱۴۰۳/۰۴) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: شل زره (۲۰۰۰۰) افغانی.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په څنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

SHTAMANI
شتمني
اوونيزه








## اُزبکستان پر افغانستان ټرانزيټي فيس راټيټ کړ؛ او ايراني باروړونکي موټرونه يې له ټرانزيټي فيس څخه معاف کړل




د ټرېنډ - Trend په نوم اذربايجانۍ رسنۍ راپور کاږي، چې اُزبکستان په (۲۰۲۵)ز کې ايراني باروړونکي وسايط د ټرانزيټ د پيسو له اخيستلو څخه معاف کړل او کوم فيس نه ور څخه اخلي. په متن کې په استناد سره راغلي دي، چې دا خبره د اُزبکستان د (۲۰۲۵)ز کال د دولتي بوديجې په قانون کې ذکر سوې ده.

دا راپور نه يوازي دا چې د ايراني لېږد راليږد وسائطو په باب خبر ورکوي؛ بلکې افغانستان ئې هم نازولی دئ او په هکله ئې ليکي: «افغانستان به تر ټولو لږ ټرانزيټي فيس، يعني (۵۰) امريکايي ډالره تاديه کوي؛ په داسې حال کې، چې د نورو هيوادونو له پاره عمومي نرخونه (٤۰۰) امريکايي ډالره دي.»

له دې څخه داسي محاسبه کېداى سي، چې اُزبکستان افغانستان ٪(۸۷,۵) معاف کړی دئ او يوازې ٪(۱۲,۵) ټرانزيټي فيس اخلي، چې دا خالي (۵۰) امريکايي ډالره کېږي. ورپسې زياتوي، چې اُزبکستان د ټرانزيټي سوداګرۍ د تاديې له مخې د نورو هيوادونو په فيسونو کې بدلون راوستی دئ؛ خو يوازي افغانستان دئ، چې د ښې سوداګرۍ له کبله ئې ور باندې تر ټولو لږ ټرانزيټي فيس وضع کړی دئ.

ياده اذري رسنۍ وايي، چې دا پرېکړه ئې د دوه اړخيزو سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا په خاطر اعلان کړې ده.

**اُزبکستان له؛**

- افغانستان څخه تر ټولو کم (۵۰) امريکايي ډالره ټرانزيټي فيس اخلي.
- نورو هيوادونو څخه (٤۰۰) ډالره ټرانزيټي فيس اخلي، او
- ايران څخه ئې ټرانزيټي فيس بېخي معاف کړی دئ.

## Minister of Finance Attends Training Program for Financial Officers of Budgetary Units, Lauds Opportunity



The General Directorate of Treasury of MoF organized a training program affiliated with financial and accounting for the financial officers of the budgetary units (ministries and independent bodies) at 'Afghan International Islamic University'. In this meeting, Minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund, Minister of Higher Education Sheikh Al-hadith Maulawi Nida Muhammad Nadeem, General Director of DOP Sheikh Al-hadith Maulawi Noorulhaq Anwar, General Director of Treasury Nusratullah Mahmood, and finance officials of budget units attended. The Minister of Finance appreciated such type of educational program for the betterment of financial affairs. "All financial officers must take advantage of this opportunity to improve their professional skills and carry out the assigned burdens well", emphasized minister of finance. Noticeably, in this 15-day training program, comprehensive information will be provided in relation to financial and accounting matters, which will increase the ability of the employees in this field and improve the related matters.

## "Construction of 2 Hangars Worth 34 mln Afs at Dand Patan Customs in Process, Reaches 90%" - General Directorate of Customs



The General Directorate of Customs of MoF has launched the construction of two hangars worth approximately 34 million Afs at Dand Patan Customs of Paktia Province. Its construction process has been reached 90%, and the rest of the work will be completed soon, the Directorate assured. The cost of building these hangars is paid from the development budget of the Ministry of Finance by an Afghan corporation, which its construction will provide greater convenience to traders in terms of the safety of commercial goods. In addition, the construction of the parking lot and perimeter wall at the said customs house is also being built swiftly. It is worth noting that a number of development projects have been implemented by MoF at all customs of Afghanistan, and some of them are still in implementation process.

**د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي**

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( ۹۳+ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



**د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!**

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

**رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!**

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱